DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
۱۰۲۱
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ش
يولسم کال – دويمه دوره، ۱۰۲۱ مه گنه، پر له پسې ۲۰۹۶ گنه د ۱۳۹۰ ل-دوري ۲۸ مه – د يکشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـق جمادي الاول ۱۲ مه د ۲۰۱۱ د اپریل ۱۷ مه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C
PROPERTY OF ACKU

وزارت صحت عامه با کمبود متخصصان صحی مواجه است

سرپرست وزارت صحت عامه، در حالی برای توضیحات در مورد کارکردهای یک سالهٔ این وزارت به ولسی جرگه فرا خوانده شد که شماری از وکلا انتقاد کردند و گفتند، باید روی مسایل امنیتی بحث شود.
ثریا دلیل که دیروز در نشست عمومی ولسی جرگه در مورد دستاوردها، مشکلات و پلان های یک ساله فراخوانده شده بود، محدودیت منابع مالی ص۳

از پاکستان جواب صریح بخواهید!

حضور صدراعظم پاکستان به افغانستان، در دو بخش جداگانه قابل بررسی و تفحص است.

اول: دیپلوماتیک

روابط افغانستان با پاکستان بخصوص در سه دهۀ اخیر، با فرازونشیب های زیادی همراه بوده است.
پاکستان همواره در همه حالات، بر تفوق جویی و نفوذ در افغانستان اعتراف کرده است. اما این نفوذ را در حد مداخلات رسمی ندیده در ظاهر، تلاش کرده است، تا در آوردن صلح به کشور همسایۀ خود کمک کند.
این روند همیشه با بازی دادن سران دولتی افغانستان و دوگانگی گفتار و کردار پاکستانی ها، به پیش رفته است.
سفر دیروز جناب گیلانی به کابل که رییس استخبارات پاکستان نیز وی را همراهی می کند، نشان دهندۀ یک فشار خارجی بر پاکستان است.
در این اواخر، سفرهای مقام های پاکستانی به امریکا و مقام های امریکایی به پاکستان، می تواند بیانگر گوشه یی از این فشارها بر پاکستان باشد.
اگرچه تمایل رفتن به طرف راه حل سیاسی در مسوولان پاکستانی دیده نمی شود، اما آنچه از این سفر انتظار می رود، این است که قسمتی از مداخلات پاکستان به صورت علنی مطرح گردد و از پاکستانی ها جواب صریح خواسته شود.
جوابی که به ذهنیت های همدستی دولت افغانستان با پاکستانی ها پایان بخشد. در غیر این صورت، باز همان آش و همان کاسه!
انتظار می رود، این ص۲

د افغان حکومت او وسلوالو مخالفینو تر منځ د نا باورۍ راز!

د افغانانو ترمنځ بې باوري ژوره ده، سره له دې چې اوس په تدريجي توگه لويديځ دې ته ورمات شوی چې د وسلوالو طالبانو سره د خبرو په برخه کې د افغان حکومت د هلو ځلو ملاتړ وکړي. خو د سولې دا خبرې تر اوسه له عملي کېدو لرې ښکاري. په دې برخه کې دا مهال لويه ستونزه د دواړو خواوو ترمنځ بې اعتمادي ده. که څه هم لويديځې رسنۍ د افغان حکومت او وسلوالو طالبانو تر منځ د پټو خبرو راپورونه ورکوي، خو تر اوسه په رسمي توگه داسې کومې خبرې اترې نه دي شوي.
په ملگرو ملتونو کې د طالبانو پخواني استازی عبدالحکيم مجاهد چې اوس د سولې د هغې اويا کسيزې عالي شورا غړی دی، چې د کابل حکومت تېر کال له طالبانو سره د خبرو اترو د پيل لپاره جوړه کړه وايي، ښايي له طالبانو سره تر اوسه ځينې غير رسمي تماسونه نيول شوي وي، خو تر دې زيات څه تر دې مهاله نه دي شوي.
طالبانو ته ځينې نژدې افغان سرچينې تاييدوي، چې وسلوالو طالبانو د کرزي له حکومت او د سولې له



شورا سره د ځينو تماسونو يادونه کړې، خو دوی په ځرگنده د دې تماسونو له تاييدلو ځکه ډډه کوي، چې فکر کوي د دوی ترمنځ يووالی به زيانمن کړي او د دوی په اړه به عامه تصور هم گډوډ کړي.
دا سرچينې وايي، وسلوال طالبان د افغان حکومت پر هغو دعوو شک لري، چې وسلوالو طالبانو ته يې د امتيازاتو ورکولو په برخه کې کوي او وايي دوی به له ځان سره په حکومت کې يوځای کړي، دندې او پيسې به ورکړي او امنيت به يې تضمين کړي. ۳مخ



ایران د افغانستان په اوبو کې د خپلې ونډې هڅې کوي! ۲

له افغانستانه د پوځونو د ايستلو پر سر د اوباما او کلېنټن د وينا اختلاف



د امريکا د بهرنيو چارو وزيرې ورمه ورځ د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا د پخواني استازي ريچرد هولبروک په ياد په يوه غونډه کې له طالبانو سره د خبرو ملاتړ وکړ او ويې ويل خبرې له هغه چار سره پکار دي چې ورسره اختلاف وي.
مېرمن کلنټن ريچرډ هولبروک په دې وستايه چې له افغانستان او پاکستان سره يې د امريکا کړکېچنې اړيکې سم لور ته هدايت کړې.
دې، چې د برلين په امريکايي اکاډيمۍ کې خبرې کولې، زياته کړه: «هغوی چې له طالبانو سره د خبرو مخالفت کاوه، ريچرد هولبروک ورته ډېر قوي پيغام درلود او هغه دا وو چې: که موږ يوازې له خپلو دوستانو سره خبرې کوو، بيا خو نو ډيپلوماسي ډېره اسانه ده.»
دې دا هم وويل: «له خپل دښمن سره خبرې به هغو کسانو ته خوروونکې نه وي چې مړه شوي دي، خو شرط دا دی چې په خبرو د تشدد مخه ونيول شي.»
د امريکا د بهرنيوچارو وزيرې تر دې يوه ورځ مخکې د پنجشنبې په ورځ په برلين کې د ناټو د بهرنيو چارو وزيرانو غونډې ته په وينا کې له افغانستانه د ځواکونو په ايستلو کې له بيړې د کار اخيستلو په وړاندې خبرداری ورکړ او ويې ويل چې له دې څخه به طالبان سياسي گټه وکړي.
مېرمن کلنټن له افغانستانه د ځواکونو د ژر ايستلو په باب وويل، «موږ ته پکار ده چې دا يقيني کړو چې قربانۍ د سياسي ملحوظاتو او لنډفکرۍ ۳مخ

په لغمان کې ځانمرگي بريد د ۵ بهرنيانو په گډون نهه تنه ووژل

د لغمان په پروني ځانمرگي بريد کې د ملي اردو څلور سرتېري وژل شوي او ۸ نور ټپيان دي او ايساف هم په ختيځ کې د خپلو پنځو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکوي.
په کابل کې د ملي دفاع وزارت له مطبوعاتي دفتر څخه دوري پر ۲۷ مه په يوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د گمبيري په دښته کې د ۲۰۱ سيلاب قول اردو د گارنيزيون په قوماندانۍ کې يوه تن، چې د ملي اردو دريشي يې پر تن وه ځانمرگی بريد وکړ.
خبرپاڼه کاږي، چې په دې پېښه کې د ملي اردو څلور سرتېري وژل شوي او څلور نور ټپيان دي، چې روغتيايي حالت يې د ډاډ وړ ښودل شوی دی.
د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې، په ياد بريد کې د بهرنيو ځواکونو څلور افغان ژباړونکي هم ټپيان شوي دي.
بلخوا په کابل کې د ايساف د ځواکونو له مطبوعاتي دفتر څخه پژواک ته په رالېږل شوې خبرپاڼه کې ليکل شوي ۳مخ

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

معمای خروج و حضور دراز مدت نیروها درافغانستان!

معضلهٔ افغانستان با گذشت هر روز بغرنج و پیچیده تر می شود، مقام ها و جنرالان امریکایی و غربی نیز در مورد افغانستان اتفاق نظر ندارند؛ شماری از ایشان به حضور درازمدت و دایمی می اندیشند، و برخی هم از خروج سخن می گویند. چنانکه علی رغم تعهد بارک اوباما رییس‌جمهور امریکا برای عقب‌نشینی نیروهای نظامی این کشور از افغانستان، وزیر خارجهٔ امریکا بار دیگر با عقب‌نشینی نیروهای نظامی امریکا و ناتو از افغانستان مخالفت کرد . هیلری کلنتن که در نشست وزرای خارجه ناتو در برلین المان سخن می گفت، ضمن اعلام مخالفت خود با عقب‌نشینی نظامیان امریکایی و ناتو از افغانستان مدعی شد که عقب‌نشینی عجولانه منجر به تقویت نیروهای طالبان می‌شود. این در حالی است که برخی ها به این باور اند، حضور دراز مدت نیروهای خارجی در افغانستان به عامل تشدید ناامنی در این کشور تبدیل شده است. با این حال در نشست برلین منشی عمومی سازمان پیمان اتلانتیک شمالی ناتو نیز برادامهٔ حضور در افغانستان تاکید کرد که بیانگر ارادهٔ این سازمان و امریکا برای ادامهٔ حضور در افغانستان است. این در حالی است که ادامهٔ کشتار غیرنظامیان از سوی نیروهای امریکایی و ناتو و همچنین تشدید فعالیت های شورشیان در افغانستان بیش از پیش خشم و نفرت مردم این کشور را برانگیخته است. امریکا در سال ۲۰۰۱ به بهانهٔ مقابله با تروریزم و از بین بردن طالبان به افغانستان حمله کرد، اما با گذشت ده سال، نه تنها امنیت در افغانستان تامین نشد، بلکه نیروهای امریکایی خود به عامل تشدید فعالیت های تروریستی و تداوم ناامنی در افغانستان تبدیل شده اند که در این میان تنها و تنها مردم افغانستان قربانی می شوند.

به هر حال، این سخنان منشی عمومی ناتو و وزیر خارجهٔ امریکا اگر از سویی حاکی از ناهمگونی و ناهماهنگی آشکار بین دیدگاه های مقام های امریکایی و غربی در مورد حضور نیروها در افغانستان است، از سوی دیگر، این مسأله می تواند، بهانه های گوناگونی برای طرف های مقابل و نگرانی های فزاینده یی برای همسایه گان افغانستان نیز به بار آورد. همسایه گانی که همواره با استفاده از چنین اوضاع، به مداخله در امور داخلی ما پرداخته و به شیوه های گوناگون به دنبال شکار اهداف و منافع مشروع و نامشروع شان در این مرزوبوم برآمده اند.

ایران د افغانستان په اوبو کې د خپلې ونډې هڅې کوي!

میوند

سره له دې چې افغانستان د اوبو له اړخه یو غني هېواد دی او پرېمانه اندازه اوبه لري، خو له بده مرغه ویلای شو، چې دا اوبه اکثره د افغانستان گاونډیو هېوادونو ته ځي او په خپله افغانان او افغانستان ترې هومره گټه نه شي پورته کولای، لکه نور هېوادونه یې چې ترې پورته کوي. په همدې سلسله کې یو هم د افغانستان د جنوب او جنوب لوېدیځ لور ته هغه اوبه دي، چې د ایران خاورې ته داخلېږي او پخپله افغانان په یوه ځانگکي اوبو پسې سرگردانه وي. خو ایران چې د خپل اینده ژوند د سوکالۍ هیله ورسره ده، تل پر داسې لارو چارو غور کوي، چې د خپل هېواد د سوکالۍ لپاره زمینې برابرې کړي او دا دې په همدې ترڅ کې د افغانستان په لوېدیځ کې پر یو شمېر داسې لارو چارو او پلانونو کار کوي، چې په ترڅ کې یې د افغانستان اوبه د ځان کولای شي او او په دې ډول افغانان له خپلو اوبو څخه بې برخې کولی شي. دوی هڅه کوي، چې د افغانستان اوبه لکه د اوس په شان تل ایران ته لاړې شي او د افغان دولت ځینې کمزورې هڅې چې غواړي له دې اوبو څخه گټه واخلي او د برېښنا بندونه پرې جوړ کړي، تل د ایران تر گوزارونو لاندې دي. ایران نه غواړي چې د افغانستان اوبه په افغانستان کې تم شي او له همدې امله د هغو بندونو د ورانولو او د بیارغونې د چارو مخنیوی هم کوي، چې هلته د اوبو پر سر جوړېږي او گټه یې افغانستان ته رسېږي، ځکه که چېرې هلته د اوبو او برېښنا بندونه جوړ شي، نو پر ایران اوبه ودرېږي او دا دوی ته په هېڅ صورت کې د زغملو نه ده. په همدې حال کې د ایران او افغانستان تر منځ یوه مهمه ستونزه او شخړه هم د همدې اوبو پر سر ده او د طالبانو د واکمنۍ پر مهال یو څه توده هم شوه. همداشان تل د همدې اوبو پر سر له ایران سره ځینې شخړې رامنځ ته شوې دي. افغان لیکوال رحمت الله جمالزی په دې هکله لیکي: ((د ایران او افغانستان تر منځ د هلمند په اوبو له هغه وخته شخړه پیل شوې، چې په ۱۸۵۷ میلادي کې افغانستان د ایران دولت په رسمیت وپېژانده او په پاریس کې د هلمند د اوبو په اړه پرېکړې وشوې، خو په ۱۸۷۳ کال بیا شخړه پورته شوه او انگلستان منځگړتوب وکړ، چې یو ځل بیا دا منځگړتوب په ۱۹۰۲ کال کې وشو او ایران ونه مانه، په ۱۹۳۷ کې هم له کمال خان وروسته د سیند د اوبو د نیمایي کېدو پرېکړه وشوه، چې دا پرېکړه هم پلې نه شوه، په ۱۹۳۹ کال کې په کابل کې په دې اړه هوکړه لیک لاسلیک شو، چې افغان پارلمان یې له تصویب ډډه وکړه او دولت هم پلی نه کړ، په ۱۹۵۰ کې د چیلي، امریکا او کاناډا په منځگړتوب کمېسیون پرېکړه وکړه، چې هغه هم ایران ونه منله، تر دې مهاله د ظاهرشاه او داودخان هڅې هم د دې ستونزې په حل کې ناکامې پاتې شوې. په ۱۳۴۵ کې د کجکي بند په جوړېدو سره، چې د افغانستان جنوبي ولایتونو ته د برېښنا د ورکړې په خاطر جوړ شو، د ایراني لوري په زړه غمې گډې شوې او په افغان لوري یې فشار راوړ، تر دې، چې په ۱۳۵۱ کال کې د ایرانۍ لومړي وزیر امیرعباس هویدا او افغان لومړي وزیر محمد موسی شفیق تر منځ یو تړون لاسلیک شو، چې له مخې یې وټاکل شوه، چې د هلمند سیند د طغیان پر مهال ایران ته په ثانیه کې ۲۶ متره مکعب او د وچکالۍ پر مهال له یو مترمکعب څخه هم لږې اوبه ایران ته لاړې شي.)) له همدې امله ایران هڅه کوي، د خپل راتلونکي او د خپل هېواد د گټې په خاطر د افغانستان له اوبو گټه واخلي او په دې اوبو کې حتا ځان ته په حق ورکولو سره افغان دولت دې ته

۳مخ

از پاکستان جواب صریح ...

بار دولتمردان افغانستان به بازی دادن های پاکستانی ها دل خوش نکرده، مسوولان دولتی پاکستان را در وضعیتی قرار دهند که آنان به ناچار قسمتی از نقشه های طراحی شدهٔ خود را در آیندهٔ بازی، واصح سازند.

این کار سختی نیست!

در صورتی که دولتمردان توان چنین کاری را داشته باشند!

لازم است، تا دولتمردان افغانستان، از حالت نظاره گری به حالت بازیگری با پاکستان وارد شده خود را، طرف دیگر این بازی قرار بگیرند. زیرا در سه دهۂ اخیر، بازیگر نبودیم بلکه نظاره گر بودیم!

و اما طرف دیگر قضیه؛

دوم: پشت پرده:

آنچه روابط ما با پاکستان را طی سه دهۂ اخیر و به خصوص در ده سال گذشته پیچیده و مبهم کرده است، همانا زدوبندهای پشت پرده یی است که بسیار ی از دولتمردان از آن بی خبر اند.

زدوبندهایی که میان چند تن محدود صورت می گیرد و ظاهر قضیه چیز دیگری وانمود می شود.

در پشت پردهٔ افغانستان با پاکستان، سوالات متعددی وجود دارد که هنوز دولتمردان ما و همچنین پاکستانی ها نتوانستند، جواب های مشخص و قانع کننده یی را برای مردم هر دو کشور ارایه داده و آن ها را در زمینهٔ روابط سکوت میان این دوکشور همسایه آرام نمایند.

اعتراض های مردمی به دولت های افغانستان و پاکستان هر روز رو به فزونی می گذارد و این دوکشور همچنان بی خیال همه دل نگرانی های مردم، به معاملات پشت پردهٔ خود ادامه می دهند.

معاملاتی که شاید از طرف خارجی ها کنترول می شود.

بدین سبب، جناب کرزی از سال - ۲۰۰۱ تا سال ۲۰۱۰ - چهارده مرتبه به پاکستان رفته است و همینطور پاکستانی ها به افغانستان آمده اند.

جالب اینجاست که در برخی از این معاملات پشت پرده و جلسات خصوصی میان افغانستان و پاکستان که تاکنون برگزار شده است، افراد نزدیک به مقام های نیز از جلسات به بیرون هدایت شده اند.

حتا در مواردی گفته شده است که معاونان رییس جمهور افغانستان نیز، در این جلسات پشت پردهٔ حضور نداشته اند و فقط رییس جمهور با چند تن از اطرافیانش با برخی از سران پاکستانی مشغول معامله بوده اند.

امید است این بار این اتفاق نیفتد و سران مملکتی نیز، در جریان مذاکرات علنی و مخفی هیأت پاکستانی قرار بگیرند.

ACKU

له افغانستانه د پوځونو د ایستلو ...

په خاطر ضایع نه شي.»
د امریکا د بهرنیوچارو وزیرې له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د ایستلو د پیل په باب د ولسمشر بارک له لوري د جولای د میاشتې تعینول مهم ونه بلل او ویې ویل: «موږ ته پکار نه ده چې په دې اندېښنه ولرو چې له افغانستانه څومره ژر ځواکونه ایستلی شو، د دې پرځای باید دې ته ډېره توجه ولرو چې څرنګه د افغانستان له خلکو سره مرسته کولی شو چې د تېرو پنځلس میاشتو بریاوې وساتي.»
خو له بلې خوا د امریکا د متحدو ایالاتو ولسمشر بارک اوباما له اسوشتید پریس خبري اژانس سره په مرکه کې وویل، پوره باور لري چې له افغانستان څخه په راروان دوبي کې د عسکرو د ایستلو د پیل په اړه ژمنه به یې مهمه او جدي وي او دا به یوسمبولیک اقدام نه وي.
اوباما ونه ویل چې څومره عسکر به له افغانستان څخه وباسي. ده وویل، دا پرېکړه به په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو قوماندان جنرال ډیوید پیټرایوس کوي.
د تاند د راپور له مخې، بارک اوباما په امریکا کې د ولسمشرۍ پر څوکۍ تر کښېناستو وروسته په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو شمېر درې برابره زیات کړ خو ویې ویل چې د روان کال له جولای څخه به د خپلو ځواکونو په ایستلو پیل وکړي او د ۲۰۱۴ کال تر پایه به ټول پوځیان وباسي.

ایران د افغانستان په اوبو ...

چمتو کړي، چې دوی ته د اوبو خاص حق هم ورکړي او تر ډېره یې د دې کار لپاره داسې زمینې برابرې کړي، چې هغه د چا خبره افغان دولت ورته کړت هم نه شي کولای، چې ښه بېلګه یې د ایران له خوا جمهوري ریاست ته د بوجۍ بوجۍ یورو ورکړه ده. ایران اوس له همدې موقع نه په ګټې اخیستلو سره غواړي د افغانستان په اوبو کې خپل رسمي حق ترلاسه کړي. په همدې ترځ کې د ایران د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر علي اکبر صالحي د پنجشنبې په ورځ د افغانستان پولې ته نږدې د سیستان او بلوچستان ولایت په مرکز زاهدان کې وویل چې وزارت به یې په دې ولایت کې د هامون جهیل او د کرنې د احیا کولو لپاره له افغان چارواکو سره په خپلو خبرو کې د هلمند سیند په اوبو کې د ایران د ونډې په باب خبرې وکړي. د ایران د رسمي خبري اژانس ایرنا (انګلیسي) د راپور له مخې ده یادونه وکړه چې د بهرنیو چارو مرستیال وزیر (معین) یې ګومارلی چې له خپل افغان ساري سره په راتلونکو څو ورځو کې خبرې وکړي.
د ایران د باندنیو چارو وزیر په عین حال کې وویل: «موږ له خپل ګاونډي او دوست هېواد سره ښې اړیکې لرو او د دواړو خواوو ترمنځ اقتصادي او کولتوري راکړې ورکړې زیاتې شوې دي.» ښاغلي صالحي ټینګار وکړ چې باید د هلمند سین په اوبو کې د ایران حق ورکړای شي. ایرنا خبري اژانس وایي، د افغانستان او ایران ترمنځ د ۱۹۷۲ کال له تړون سره سم افغانستان مکلف دی چې په هره ثانیه کې ایران ته ۲۶ مترمکعب (۹۱۰ فوټ مربع) اوبه پرېږدي. ایرنا خبري اژانس وایي چې طالبانو د خپلې واکمنۍ په موده کې د ۱۹۷۲ تړون سرغړونه کوله او اوبه یې نه پرېښوولې چې د ایران خاورې ته وبهېږي. په دې سره ایران اوس غواړي چې د تل لپاره د دغو اوبو د خپلولو هڅې وکړي او د دې کار لپاره یې ډېرې ښې زمینې هم مساعدې کړې دي، خو دا مسئله یوه ملي او مهمه مسئله ده. افغان دولت باید دا کار په پټو سترګو ونه کړي او نه هم د کوم خاص تفاهم په ترځ کې له ایران سره د اوبو د ورکړې تړون نوی کړي، بلکې افغان دولت باید دې ټکي ته ډېر متوجه وي، چې اوبه یوه حیاتي ماده ده او په ساتلو او لګولو کې یې ډېر احتیاط په کار دی او په دې برخه کې هسې په پټو سترګو کوم اقدام او پرېکړه ونه کړي او خپلې اوبه د ایران د څو تنو لاسپوڅو او څو بوجیو پیسو په مقابل کې پر ایران ونه پلوري.

په لغمان کې ځانمرګي برید ...

چې د وري پر ۲۷ مه یې د افغانستان ختیځ ته په یوه چاودنه کې پنځه سرتېري وژل شوي دي.
ایساف د وژل شویو سرتېرو هویت او د پېښې کره ځای نه دی په ډاګه کړی، خو د ملي دفاع د وزارت په یاده خبرپاڼه کې زیاته شوې، چې په دغه ځانمرګي برید کې بهرنیو ځواکونو ته هم مرګ ژوبله اوښتې ده.
د وسلوالو طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد وویل، چې د دوی یو ملګری، چې یوه میاشت مخکې د ملي اردو لیکو ته ورغلی و، د ملي اردو په ګارنیزیون کې د کورنیو او بهرنیو پوځیانو په یوې ګډې ناسته کې ځانمرګی برید وکړ. هغه ادعا کوي، چې په دغه برید کې ۱۲ بهرني او ۱۴ کورني پوځیان وژل شوي او ګڼ شمېر نور ټپیان دي.

د افغان حکومت او وسلوالو ...

عبدالحکیم مجاهد په دې ورستیو کې د سولې د عالي شورا د هغې هیئت غړی و، چې د ترکیې انقرې ته یې سفر کړی و. د ترکیې ولسمشر منلې چې د طالبانو لپاره به په خپله خاوره کې سیاسي نمایندګي پرانیزي څو طالبان له نړیوالې ټولنې سره له یو څرګند ادرس څخه خبرې وکړی شي.
خو ښاغلي مجاهد وایي، په دواړو خواوو کې پر یو بل باور پیدا کول د سولې د خبرو په مخ کې تر ټولو ستونزمنه مسئله ده: "په افغانستان کې د بې اعتمادۍ فضا تر ټولو ستره ستونزه ده. تر اوسه پورې د نړیوالې ټولنې او وسلوالو طالبانو ترمنځ د بې اعتمادۍ لوی بحر او سیند موجود دی همدارنګه د افغانستان د حکومت او مخالفینو ترمنځ هم اعتماد نه شته."
د سولې د عالي شورا بل غړی مولوي قیام الدین کشاف وایي، تر اوسه پورې چې له طالبانو سره کوم تماسونه نیول شوي هغه یوازې په ځینو استازو پورې محدود وو.
نوموړي ازادي راډیو ته وویل، دا شورا هلې ځلې کوي چې د وسلوالو مخالفینو سره تماس ټینګ کړي او همدارنګه د نړیوالې ټولنې سره هم ښکېل ده.
د ښاغلي کشاف په وینا دوی هڅه کوي، چې د دواړو خواو ترمنځ د باور یوه فضا رامنځ ته کړي خو په دې برخه کې د ده په وینا ځینې سیاسي او لوژیستیکي ستونزې شته: "دلته یو خوندي ځای په کار دی، د خوندیتوب تضمین په کار دی، ښکاره خبره ده، چې هغوی مشکلات او ستونزې لري چې باید هواري شي. نو تر اوسه مو دا ستونزې نه دي هوارې کړې."
د سولې د عالي شورا د دارالانشا ریس محمد معصوم ستانکزی چې له وسلوالو طالبانو سره د سولې د پلان له مهمو طراحانو څخه دی تېره اوونۍ یې په کابل کې خبریالانو ته په خبرو کې په دې برخه کې د یو شمېر موجودو خنډونو یادونه وکړه او ویې ویل: "که چېرې تاسو فکر کوئ، چې د یو دېرش کلونو تراژیدي په شپږو میاشتو کې هواره شي نو په دې برخه کې شته خنډونه به مو له پامه غورځولې وي."
خو ښاغلي ستانکزی چې د ولسمشر سلاکار هم دی، په دې برخه کې اوسنۍ هلې ځلې په مثبته بڼه یادوي: "له طالبانو سره تماسونه روان دي، په دې برخه کې کافي هلې ځلې شوې دي. په مختلفو طریقو او لارو، زموږ هیئتونه هم تللي او د هغوی هم راغلي او پر دې باندې بحثونه روان دي. دا خبره به هغه مهال سړې روښانه کړي چې دا خبرې اترې یو سم رسمي چوکاټ ته ور ولوېږي نو هغه نتیجه به یې سړې اعلان کړي."
خو وسلوالو طالبانو بیا د تل داسې تماسونه رد کړي او د کرزي له خوا د سولې پروسه د ستیج یو ډرامه بولي. دوی تیره میاشت په خپله یوه خبر پاڼه کې د سولې شورا د خلکو د جیبونو د ډکېدو لپاره یوه پلمه بللې وه.
طالبانو د خبرو اترو د پیل لپاره بیا بیا خپله دا غوښتنه تکرار کړې، چې بهرني ځواکونه دې له افغانستان څخه ووځي نو دوی په هغه صورت کې د کابل له واکمنو سره خبرو ته چمتو دي.
خو دوی له هېواد څخه بهر د تماس د جوړېدو د یو دفتر خبره نه ده رد کړې. تیر کال ازادي راډیو سره په یو لیکنۍ مرکه کې د وسلوالو طالبانو ویاند قاري یوسف احمدي وویل: "د افغانستان اسلامي امارت د داسې یو دفتر غوښتنه نه ده کړې او دا غوښتنه د ځینو نورو له خوا راپورته شوې ده."
د طالبانو پخواني مشران چې اوس په کابل کې دي وایي، څو چې د اعتماد د فضا د رامنځ ته کولو لپاره ګامونه نه وي اخیستل شوي ستونزمنه ده چې وسلوال طالبان دې خبرو ته غاړه کېږدي.
دوی وایي، د دې لپاره مهمه ده چې د ورو ورو وسلوالو ډلو د پخلا کولو د هڅو پرځای باید د ملا عمر په مشرۍ د طالبانو د مشرتابه له شورا سره معامله وشي.
همدا راز ملګري ملتونه باید په دې برخه کې مهم رول ولوبوي څو په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو حضور پای ومومي. د دوی په وینا د وسلوالو له مشرانو سره د خبرو اترو تر پیل د مخه هغوی باید د ملګرو ملتونو له تور لېسته وایستل شي.

وزارت صحت عامه با کمبود...

ناامنی، نداشتن متخصصان در بخش های مختلف و توزیع نامتوازن کارمندان صحی را از جمله چالش های این وزارت عنوان کرد.
سرپرست وزارت صحت عامه گفت: "ما می خواهیم، در بسیاری جاها مراکز صحی و یا کلینیک هایی داشته باشیم؛ اماعرضهٔ خدمات تخصصی با کیفیت، قیمت است و هزینهٔ مالی هنگفت کار دارد."
وی توزیع نامتوازن کارمندان صحی را از چالش دیگر عنوان کرده، افزود که اعزام اکثریت کارمندان صحی، در شهرهای بزرگ متمرکز بوده و فرستادن آنها به ولایات دوردست، مشکل و چالشزاست.
ثریا دلیل، با ذکر اینکه مشکلات امنیتی در بعضی از ولایات، کارمندان سکتور خصوصی را با مشکل رو به رو کرده است، علاوه نمود که در سال گذشته، کارمندان وزارت در بعضی اوقات، با چالش هایی مواجه شده اند که یکی از این نمونه ها، کشته شدن رییس صحت عامهٔ ولایت کندز بود.
سرپرست وزارت صحت عامه گفت که در حال حاضر، ۲۷ درصد مراکز صحی در کشور، فاقد پرسونل زن بوده و فرستادن کارمندان زن به مناطق دوردست نیز، یک چالش شمرده می شود.
وی علاوه کرد که وزارت صحت عامه، در بعضی بخش ها با کمبود متخصصان مواجه است که این کار، به زمان و هزینهٔ مالی نیاز دارد.
دلیل در بخش دیگری از صحبت هایش گفت که این وزارت در سال جاری، پلان های زیادی را در نظر دارد که بر اساس آن، ۱۰ شفاخانه، ۲۹ مرکز صحی و بانک های خون در چند ولایت اعمار خواهد شد.
سرپرست وزارت صحت عامه افزود که در حال حاضر، ۳۰۱ مرکز صحی در خانه های کرایی فعالیت دارد، اما در سال جاری برای بعضی از آنها تعمیر مستقل ساخته خواهد شد.
دلیل، علاوه کرد که در جریان سال روان، تعمیر جدید شفاخانهٔ جمهوریت کابل، به کمک شبکهٔ انکشافی آغا خان نیز، فعال می گردد.
تعمیر سابقهٔ شفاخانه جمهوریت، در سال ۱۳۸۳حین بازسازی توسط انجنیران چینایی، فروریخت و کار اعمار تعمیر ده منزلهٔ جدید که ظرفیت ۳۵۰بستر را داراست، در ماه عقرب سال ۱۳۸۵به هزینهٔ ۲۵میلیون دالر کمک کشور چین، آغاز و در ماه اسد سال گذشته، تکمیل گردید، ولی این تعمیر تا کنون غیر فعال می باشد.
سرپرست وزارت صحت عامه، در نشست دیروزی گفت که هم اکنون ۶۰ درصد مردم در سراسر کشور به خدمات صحی اساسی دسترسی دارند، اما این رقم با تطبیق پلان پنج ساله، به ۹۰ درصد خواهد رسید. وی تداوی بیش از ۲۹ میلیون مریض، ۳۸۶ هزار ولادت و تطبیق واکسین فلج، توزیع ادویهٔ کرم ضد امعا برای اطفال زیرسن پنج سال را، از عمده ترین کارهای سال گذشتهٔ این وزارت خواند.
دلیل افزود که اصلاح اداره و مبارزه علیه فساد اداری در سال گذشته، در صدر برنامه های این وزارت قرار داشت و در سال جاری نیز، این برنامه به شکل جدی ادامه خواهد یافت. به گفتهٔ دلیل، کمیتهٔنظارت بر تطبیق مبارزه علیه فساد اداری، در این وزارت ایجاد شده که تا کنون ۱۷ دوسیهٔ نسبتی برای تحقیق و تعقیب، به لوی څارنوالی معرفی گردیده است. بر اساس معلومات منبع، استخدام کارمندان در وزارت صحت عامه نیز، بر اساس رقابت های آزاد آغاز و ۵۰ درصد بست ها در واحدهای ولایات و ۸۷ درصد بست ها در واحدمرکزی، از طریق رقابت آزاد استخدام شده است.

ACKU

جرگه؛ یک وسیلهٔ سیال سیاسی

گاردین



در حالی که جرگه ها ماهیت مردمی دارند، به حیث یک وسیلهٔ سیال سیاسی مورد استفاده قرار داده می شود. نه بحث بر پیشینهٔ تاریخی در رابطه با تقدم و تاخر نقش جرگه ها، بلکه سیاسی بودن آن هدف این نگار ش را می سازد. چه چیزی جرگه ها را که به حیث میکانیزم تصمیم گیری ظهور کرد، سیاسی می سازد؟ آیا جرگه ها از لحاظ ماهوی سیاسی است؟

با دریافت پاسخ به این دو سوال اساسی در این بحث رنگ و روکش جرگه ها نیز، معرفی می گردد.

بحث بر نقش جرگه در شرایط کنونی به خصوص در آستانهٔ آماده گی برای تدویر یک گردهمایی در آیندهٔ نزدیک زیر نام "لویه جرگهٔ عنعنوی" ضروری می باشد، چه نه تنها موضوع جرگه آن را سیاسی می سازد، بلکه مرجع تدویر نیز، در آن نقش تعیین کننده را بازی می نماید. کارآیی و مشروعیت جرگه نیز، در نتیجه می تواند مورد سوال قرار داده شود. بزرگی و کوچکی موضوع و تصامیم عوامل دیگری است که با نقش جرگه ها و سیاسی بودن آنها رابطهٔ تعیین کننده دارد.

با اندک تفکر می توان دریافت که جرگه عبارت از یک میکانیزم مشورتی است که به هدف دریافت راه (های) حل و تحقق آن (ها) تدویر می گردد. حل منازعات و تامین همزیستی در محلات زیست میان مجامع گواه براین است که جرگه ها به حیث مرجع تصمیم گیری هایی مهم قومی، بین القومی و ملی در طول تاریخ نقش ایفا کرده است.

تصمیم گیری در ماهیت خود یک امر سیاسی است، بخصوص اگر جمع دیگر یا روابط میان آنها را از لحاظ حقوق اساسی شهروندی متاثر سازد. جرگه های ملی یا لویه جرگه ها بدون شک سیاسی است، زیرا برای تصمیم گیری بر مسایل کلیدی و ملی دایر می گردد. جرگه هایی که در سطوح پایین تر دایر می گردد می تواند، بر بنیاد انگیزه، موضوع و مرجع تدویر، سیاسی شود. یک جرگهٔ منطقه یی می تواند در مورد مسایل مهم سیاسی، با یک انگیزهٔ سیاسی و یا از سوی یک نهاد سیاسی دایر گردد.

بدین ترتیب، جرگه هایی مانند لویه جرگه، جرگهٔ مشورتی صلح، جرگهٔ امن منطقه یی و همچنان به اصطلاح "لویه جرگهٔ عنعنوی" همه ابزار سیاسی است.

دلایل مستحکمی وجود دارد که فکر شود، "لویه جرگهٔ عنعنوی" تنها می تواند، نام غیررسمی لویه جرگه یی باشد که قانون اساسی میکانیزم تدویر آن را تسجیل کرده است؛ زیرا لویه جرگهٔ عنعنوی به حیث یک پدیدهٔ اجتماعی - سیاسی به رسمیت شناخته شده است. بدون شک عناصری در آن شرکت خواهند کرد که در فصل ششم قانون اساسی از آنها ذکر به عمل آمده است.

آغاز یک جرگه را یک شکایت یا نزاع تشکیل می داده که باید به آن رسیده گی صورت می گرفت و مراجعی که جرگه را فرا می خواند یا شاکی و یا افرادی بوده اند که موضوغ مورد بحث موجب نگرانی آنها بوده است. بدین ترتیب، انگیزه یی برای تدویر جرگه، درخواست تدویر، شرکت کننده گان جرگه، تصمیم گیرنده گان و اجرا کننده گان تصامیم اتخاذ شده در بستر همسان ایجاد می گردد. عنعنه وصلاحیت اساس مشروعیت جرگه و تصامیم آنها را می سازد. این بیان ممثل عنعنهٔ جرگه سالاری قومی و میان اقوام است. مشخصهٔ عمده در اینجا این است که عامل قدرت رسمی در آن دخالت مستقیم ندارد و میان سطح مشارکت و حلقهٔ تصمیم گیری نه تنها سلسلهٔ مراتب یا هیرارشی رسمی وجود ندارد، بلکه حلقهٔ تصمیم گیری از لحاظ عنعنه و صلاحیت مورد سوال قرار ندارد. چنین سطح هموار را می توان میسو نامید. این مدل کلاسیک می تواند، در دوردست ها، دور از نظر صاحبان قدرت و منافع آنان عملی گردد، جایی که عامل دیگری تدویر جرگه یی را مطرح ننماید. با درهم شکستن ساختارهای سنتی و یا سیاسی و نظامی شدن ساختارهای قومی و قبیله یی صفت سنتی بودن تنها به ریشهٔ تاریخی این میکانیزم می تواند، دلالت نماید. تاثیرات سیاسی شدن و نظامی شدن به گونه های متفاوت این سنت را متاثر می سازد؛ از زمرهٔ اساس مشروعیت آن تضعیف یا مورد سوال قرار می گیرد و اعمال قدرت وارد پروسهٔ تصمیم گیری و تحقق آن می شود. تحقیقات انجام شده از سوی واحد تحقیقات برای افغانستان در رابطه با نقش شورای های محل که برای تحقق برنامهٔ همبستگی ایجاد شده است، نشان می دهد که این شوراها به حیث واحد تصمیم گیری و تحقق پروژه ها باقیمانده و نتوانسته جای آن شورایی را اشغال نماید که به حل و فصل منازعات محلی می پردازد. هدف دومی این شوراها را که مشارکت در ادارهٔ محلی تشکیل می داد، به کلی فراموش شده است. دلیل عمدهٔ آن ممکن است، این باشد که شورای های متذکره از آن مشروعیتی برخوردار نیستند که مجمع حل و فصل منازعات برخوردار می باشد. همین مجمع حل و فصل منازعات در جرگه های محلی نقش دارد.

به هر ندازه یی که موضوع کلیدی مرزهای قومی و قبیله یی بیشتری را احتوا می نماید، به همان اندازه درجهٔ آسیب پذیری جرگه افزایش می یابد و جرگه فراقومی و فراملیتی می گردد. با ملی شدن جرگه همان سوالی در برابر ما قرار می گیرد که برخی از دانشمندان بخصوص شوم پیتر در رابطه با توانایی عوام الناس مطرح کرده اند. این تنها دشواری یی نیست که موجب نگرانی می تواند باشد. جرگهٔ ملّی باید ممثل فزیکی ملتی باشد که از آن نماینده گی می نماید؛ در حالی که ممکن است، این سیما و این قالب نتواند، روح ملی را بازتاب دهد.

در صورتی که جرگهٔ ملی یا لویه جرگه به دنبال یک بحث ملی بر موضوعات قابل بحث و تصمیم گیری دایر نگردد، غافلگیری شرکت کننده گان یک امر طبیعی می باشد. نه تنها موضوعات مورد بحث و تصمیم گیری، بلکه اشکال و پیچیده گی ها، نتایج و عواقب آنها برای همهٔ مردم و آنانی که به نماینده گی از آنها در لویه جرگه شرکت می نمایند، واضح و روشن گردند. به گونهٔ مثال موضوعات ملی مندرج مادهٔ ۱۱۱ قانون اساسی مستلزم مباحثات فنی و تخصصی است و بحث بر آنها برای آگاهی مردم از دشواری ها و عواقب آنها ضروری پنداشته می شود.

در حالی که قانون اساسی افغانستان حالات تدویر لویه جرگه را در مادهٔ ۱۱۱ تعیین نموده است و تصمیم گیری در رابطه با همکاری استراتیژیک نیز، شامل این حالات می باشد، چه نیازی برای تدویر لویه جرگه زیر نام "لویه جرگهٔ عنعنوی" می تواند وجود داشته باشد؟

مادهٔ ۱۱۱ قانون اساسی اساس خوبی را به روشنفکران و جامعهٔ مدنی به دست می دهد، تا همه نیرو و توان را در این جهت به کار اندازند. برای اجندا سازی به این رویداد مهم ملی هنوز دیر نشده است و مردم حق دارند، خواسته های شان را مطرح نمایند و بر تحقق آنها پافشاری کنند.

کار برای مصالح علیای کشور را باید در دستور کار لویه جرگه قرار داد.

ACKU

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: – ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: – ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پښتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: – ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجنیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com